## خدائي خدمت ګار تحریک کښې د علماؤ برخه

# The role of religious scholars in Khudai Khidmatgar movement; (1921-47)

Dr. Mohammad Sohail[1]


## ABSTRACT

Khudai Khidmatgar movement has tremendous role in freedom movement of the sub- continent particularly in Indian British North West Frontier Province. It had an impact on all sections of the community. The religious scholar, before the birth of Khudai Khidmatgar movement were reluctant to take active part in freedom movement. However, after the movement of Anjuman I islahul Afaghina in 1921 and subsequent replacement by Khudai Khidmatgar movement in 1929, the religious scholars took active participation in freedom movement by actively spellbinding the different paradigms of the movement. In this paper a detailed attempt has been made to explore how Khudai Khidmatgar movement attracted all stakes of the community towards freedom movement.


## تعارف

برصغیر کښې د آزادۍ تحریک تاریخ هسې خو ډیر اوږد دے او ډیر لوې ارزښت لري ـ ولې د کال نولس سوه یو ېشتم نه پس چې کله انجمن اصلاح الا فاغنه جوړ شو ـ نو د ازادۍ تحریک دیر په تیزۍ سره خپور شو ـ انجمن اصلاح الا فاغنه بنسټ کیښودو سره ډیر همه جهت او ګڼ اړخیزه مبارزه پیل شوه ـ ابتدایي توګه انجمن کښې د هر فکر مبارزینو برخه اخستل شروع کړل ـ چې پکښې د دیوبند او علیګړ ه پوهنتنونو محصلین ' د اسلامیه کالج زده کوونکو ' اهل دانش ' د لندن نه د بیرسټرۍ او طب زدکړیالو ' د جومات استازانو ' د دین اسلام لوړو عالمانو' د ایډورډز مشن سکول نه پاس شوي هلکانو او دغه رنګ د بیلا بیلو سیمو او برخو نورو مبارزینو عملي برخه اخستل شروع کړل ـ د انجمن اولنې اجلاس په یکم اپریل کال نولس سوه یوویشم د

[1] Lecturer in Education, Abdul Wali Khan University, Mardan

هشنغر سیمه اتمانزو کلي کښې د عبدالغفار خان المعروف باچاخان په مشرۍ کښې راوبلل شو ـ چې پکښې دا فیصلې ووشوې ـ

۱ـ د دې انجمن نوم به انجمن اصلاح الا فاغنه وي یعني د پښتنو د اصلاح جرګه

۲ـ د دې فیصله به په اکثریت وي

۳ـ د دې انجمن به باقاعده عهدیداران وي ـ

۴ـ باقاعده حساب کتاب به ساتلې شي او سالانه راپور به پیش کول لازمي وي ـ

۵ـ د انجمن اصلاح الا فاغنه دفتر به د انجمن په مرضۍ وي۔

۶ـ انجمن اصلاح الا فاغنه د جرګې د ممبرانو تعداد به پنځوس وي ـ چې نوم به يې مجلس شوري وي۔

۷ـ د مجلس شوري اجلاس به پنځلسو ورځو کښې یو ځل ضروري وي ـ

۸ـ د مجلس شوري ممبران به د جرګې او مدرسې د اخراجاتو زمه وار وي ـ

۹ـ عامه چنده به لکه د نورو جماعتونو نه جمع کول کیښي ـ

۱۰ـ د شوري هر ممبر به سالانه پنځوس روپۍ چنده ورکوي ـ

۱۱ـ په کلو کښې به مقامي اصلاحي جرګو کښې هغه کسان اخستې شي ـ چې د انجمن اصلاح الا فاغنه منشور سره اتفاق لري ـ پره جنبه کښې نه وي ـ د کچهرو مقدمو نه به خپل ځان ساتي ـ د فیرنګیانو د پاره به کار نه کوي ـ پښتو ژبې او پقتنو سره يې مینه وي ـ

۱۲ـ دا جرګه با د پښتو ادب په خاطر هر کال یو ځل په اتمانزو کښې د ټولې صوبې شاعرانو له د مشاعري او په سالانه جلسه کښې د شمولیت دعوت ورکوي ـ

۱۳ـ دا جرګه به د اولسي شاعرانو حوصله افزائي کوي ـ او ناچارو سره به حسب توفیق امداد کوي ـ

۱۴ـ دا جرګه به یو اخبار رساله هم ووباسي ـ

۱۵ـ د دې جرګې به یو صدر، دوه نائب صدران یو جنرل سیکټر یو نئب سیکټر او یو خزانچي وي ـ

۱۶۔ د مدرسو امتحاناتو له به یو انسپکټر مقررولې شي ۔

۱۷۔ نصاب تعلیم کښې به انګریزي حساب تاریخ جغرافیه اردو دینیات سائنس او کسب ګري لازم وي ۔

۱۸۔ زریعه تعلیم به پښتو وي ۔

د انجمن اصلاح الا فاغنه د دې منشور نه دا اندازه اخستل آسان دي چې د انجمن اولنې مقصد د پښتنو تعلیم یافته کؤل وو۔ دا د قران مجید حکم هم دے او اسلامي فریضه هم ۔ اسلام په هر مسلمان سړي او ښځه تعلیم فرض کړې دے ۔ انجمن اصلاح الا فاغنه د کال نولس سوه یویشتم نه تر یو دیرشم علمي کا ووکه ۔ په دغه لس کالو کښې د انجمن له برکته پښتنو کښې بلها شعور راغلو ۔ انجمن دغه دوران کښې یو سل څلور سکوملونه جوړ کړل چې پکښې کم و بیش نهو زرو محصیلنو زده کړي ووکړې ۔ او د صوبې د تعلیم شرح د کال ۱۹۳۱ سر شمیرے لاندے یو فیصد زیاته شوه ۔ چې دا ډیر حوصله افزا عمل وو ۔ یو خواکۀ رسمي زده کړې زیاتې شوي نو بل اړخ ته انجمن اصلاح الا فاغنه سالانه جلسو کښې د تاریخ اولنۍ مشاعره ووشوه ۔ بل اړخ ته د تاریخ اولنې نعت شریف د انجمن اصلاح الا فاغنه سالانه جلسه کال نولس یویشتم کښې ووئیلې شو ۔ دغه نعت خوان د پښتو ادب اولنې نعت خوان شکل کښې حاجي محمد آمین په نوم نړۍ ووپیژنده ۔ دا هم د انجمن برکت وو ۔

د انجمن اصلاح الا فاغنه سالانه جلسو پښتو ادب له ډیري لاس ته راوړنې ورکړې دي ۔ هم دغه سالانه جلسو کښې د پښتو ادب اولنۍ ډرامه ستیج کړے شوه ۔ دا ډرامه د عبدالاکبر کان لیکلې " درے یتیمان وه "

چې خان عبدالولي خان پکښې د یتیم کردار کړے وو۔

دغه رنګ د پښتو اولنۍ مشاعره هم د انجمن په ستیج شوے ده ۔ دغه طرحې مشاعره کښې طرحه دا وه ۔

" که زلمي چرے په خپل وطن قربان شي "

دغه رنګ د پښتو شاعري په اول ځل د وروځو شونډو نه اووتله او ملي رنګ یۓ واغوست ۔ او د قام د آزادۍ ترانې پکښې شروع شوے ۔ دغه رنګ پښتو ادب کښې د غزل په ځائ نظم ته نوے لارے پرانستې شوے ۔ او نظم یو نوې روح کښې ساه اخستل شروع کړل ۔

## انجمن اصلاح الا فاغنه کښې د علماؤ برخه

د انجمن اساسي ممبرانو کښې مولا نا شاه رسول د برګړهۍ شامل وو ۔ مولانا صاحب د احاديثو لوئ عالم وو ۔ مولانا شاه رسول صيب د دينياتو ممتحن هم وو ۔ د دينياتو پرچې به هم دوي جوړولے ۔ دې نه علاوه مولانا خليل الرمان صاحب هم د انجمن ممبر وو ۔ د مولانا خليل الرحمان صيب تعلق د تنګي بره زو سره وو۔ مولانا محمد اسرائيل صيب د اتمانزو هم د انجمن اصلاح الا فاغنه اساسي بنسټ ګرو کښې شامل وو ۔

مولانا محمد اسرائيل صيب ډير لوئے او جيد عالم وو ۔ د انجمن نه مخکښې يې د حاجي صيب ترنګزو سره هم کار کړے وو ۔ او د حاجي صيب آزادو مدرسو انچارج هم وو ۔ مولانا صيب کال اتلس سوه پنځه نوي کښې اتمانزو کښې پيدا شوے وو ۔ د دوي د والد صيب نوم مولانا شاکر الله صيب وو ۔ چې هغوي هم د انجمن او روستو بيا د خدائي خدمتګار تحريک کلک غړے وو ۔ په کال ۱۹۳۰ کښې چې کله اتمانزئ محاصره شوے نو مولانا محمد اسرائيل صيب او د هغوي پلار مولانا شاکرالله صيب دواړه فيرنګيانو وونيول او ښکار بابا ډيرئ سر ته به يې پرے کا ني خيژول او راکوزول ۔ کله چې دغه مشقت کښې د چوکنډئ کندي اتمانزو محمود شاه شهيد شو نو مولانا شاکرالله صيب خپل تقرير کښې دا اعلان ووکړو چې دا قامي شهيد دے ۔ د آزادئ شهيدان به هغه جهان کښې د جنت سرداران وي ۔

مولانا محمد اسرائيل صيب د هجرت تحريک ، حاجي صيب ترنګزو تحريک ، انجمن اصلاح الا فاغنه ، خدائي خدمت ګار تحريک او جميعت علمائے افغان کښې عملي برخه اخستې ده ۔ مولانا محمد اسرائيل صيب کال ۱۹۲۹ کښې فيرنګيانو د آزادئ تحريک کښې عملي برخه اخستو باندے ګرفتار کړو ۔ د ګرفتارئ وجه په تنګي کښې د آزادئ له پاره جلسه کښې تقرير کوول وو کوم چې فيرنګي باندے بد وولګيده ۔ ياده دې وي چې د جميعت العلمائے افغان اولنې صدر د رخړو صاحب حق صيب وو ۔ او سيکټر يې د انجمن مولانا خليل الرحمان صيب وو ۔

د انجمن نورو غړو کښې د کتوزو مولانا عبدالرؤف صيب او د ميرزو مولانا صيب هم شامل وو ۔ دوي دواړو د آزادئ تحريک کښې عملي برخه اخستې ده ۔ او ډيرے سختې او کړاوونه يې تير کړے دي ۔ د علماو باره کښې

عبدالاکبر خان عمرزئ په خپل کتاب ، د برسغیر پاک وهند په آزادئ کښې د پښتنو برخهٔ او زما د ژوند سره تړلي حالات ، کښې واېئ چې

--------" دغه ورځو کښې د ملک ټول لیډران علما وو ۔ د هر سیاسي کار د پاره به هم فتوه طلب کیدله ۔ بله دا چې ے د جماعته به ډیر کم خلق جلسو ته راتلل ۔ د هجرت ناکامه تحریک د خلکو شړونه پریستې وو ۔ خلک بد دله شوې وو ۔ مخالفه پروپګنډه زیاته وه ۔ اخبار نه وو ۔ رساله نه وه ۔ ریډیو نه وو ۔ د یو کلې نه بل کلے نه خبریده "

د انجمن په باني ممبرانو کښې بل لوړ شخصیت د مولوي فضل محمود مخفي صیب وو ۔ مخفي صیب هسې خو د ډېر مانوګئ سره تعلق لرلو خو پیدا شوے چارسده کښې وو ۔ آزاد هائي سکول اتمانزو کښې د مدرس په حیث هم کار کړے دے ۔ د انجمن له اړخه په باجوړ کښې څلور آزاد سکولونو جوړولو سهره هم د مخفي صیب په سر ده ۔ مخفي صیب قامي شاعر هم وو او د ده کلام په د آزاد سکولونو ماشومانو په ترانه کښې د کورس شکل کښې ووئیلو ۔ دغه ترانه څه دا رنګې وهٔ ۔

خاونده ته ودانه کړے ځمونږ د یو والي حجره

یو زړه یو ساه یو شان کړې دے بیل بیل پښتون لره

کشمیر نه تر هراته اوړي بلوچستان تر دوړي

دا ټول پښتون دے هر چرې

څه رنګ پروت دي ذرے ذرے

د یو وجود په شان کړے

یا خدایا دا زره زره

خاونده ته ودانه کړې

زمونږ د یو والي حجره

لویو تپو د پښتنو

په غرۀ په سم پرتو درونو

نمسو د لویو پلار ګنو

راځئ چې یو شو لیونو

لویه خدایه ورانه کړې

سپیرۀ بیلتون لره دیره

خاونده ته ودانه کړې

ځمونږ د یو والي حجره

پښتو زمونږه چرته ئې

ولې مونږ نه بیرته ئې

زمونګه د زړه ځیګر ئې ته

زمونګ د قام وزر تۀ ئې زړه

په مونږه لار اسانه کړې

چې مونږ یو شو کل سره

د پښتنو اول نیکه

خواره نمسي دې یو کړه ته

دا شاني تیت دې دوي په څه

خبر له یو د بله نه

خدایه ورانه کړې

سپیره بیلتون لره دیره

ړنا زمونګ له خانه کړې

د پښتنو توره تیره

د مخفي صیب یو بله ترانه به هم د آزاد سکول ماشومانو ووئیله چې داسې وۀ ۔

خدایه داسې ورځ به هم وي چې زمونږ جهاز به هم وي

لکه باز به په هوا شي په ترخو اوبو به سم وي

زه به خپلا جریل پسې یم په دشمن به دوکول وي

خدایه مړ دې لا په خوا وے چې مې بل ته قام خجل وي

او یا دا ترانه چې

وطن وطن وطن اے خوږ وطن زما

په ما لۀ هر څه ګران

په تا کښې آرام د روح د سر او تن زما

له تانه زه قربان

د دغه نظمونو نه دا اندازه لګول آسان دي چې مولوي فضل محمود مخفي صیب د کومې پائې شاعر او ادیب وو ۔

د انجمن نورو عالمانو کښې مولانا عارف الله هم شامل وو ۔ موولانا عارف الله صیب غته خوبي دا وۀ چې د قرآن شریف ښودلو سره سره به یۍ د دستکارئ زده کړې هم ښودلې ۔ حقیقت دا دے چې انجمن اصلاح

الافاغنه داسے سوچ او فکر والا عالمان روزولي وو چې د قام د پر مختګ هر هغه سپیس ته به يې خیال وو کوم چې دے قام کښې وو ۔

مولانا خلیل الرحمان هم د اتمانزو یو بل جید عالم وو ۔ مولانا خلیل الرحمان به پښتون رساله کښې باقاعدګۍ سره لیکل هم کول ۔ او قامي او ملي شاعري به يې هم کووله ۔ د کلام یو خوندوره نمونه ئي دا ده کومه چۀ د پښتون رسالے د اګست ۱۹۳۱ ګڼه کښې چهاپ ده ۔

پښتون په لاس د مظلومۍ ایستې خنجر وینمه

د ده په وینو سور بازار د پیښور وینمه

د پښتون په آئینه کښې نن جوهر وینمه

په دے جوهر کښې نور د فضل اکبر وینمه

نن د پښتون په سر سهره د آزادۍ وینمه

ښکلي ځوانان نن قرباني په تن ځنۍ وینمه

رباب د زړه باندې نغمے د قربانۍ وینمه

د آزادۍ په جوش کښې تار په تار ځوانۍ وینمه

نن په درياب کښې د بے کس وطن غولۍ وینمه

د بے چپو مانګے کشتۍ باندې سیلۍ وینمه

دغه رنګ د آزادۍ له پاره دا علما د قام ولۍ او وطن پرستۍ شاعرۍ کښې دومره بوخت شو چې نن هم دغه شاعري تازه محسوسیږي ۔ لکه چې د نوښار مولانا عبدالروف د قامي نظم په عنوان کښې وائي چې

پښتونه څو به د غفلته څني کار اخلې

د قوم په سر به انعامونه له سرکار اخلې

ستا په حالت باندې خو زمکه او آسمان ژاړي

چې د عزت په ځائې زلت لیل و نهار اخلي

په تشو چغو آزادئ کله موندلي ده چا

څما په خیال به ازادي په سر د دار اخلي

غلام ته نه کوي نظر څوک د عزت په سترګو

ځان کړه ازاد که چرے کښل عزت وقار اخلي

ماما فدا کړه  سر و مال او زړه د ملک د پاره

که په نرتوب دې خپل وطن له ډاکه مار اخلي

مولانا عبدالخنان صیب د فاطمي کلي لوړ خدائي خدمت ګار وو ۔ او د فاطمي کلي د جرګې ناظم هم وو ۔ مولانا عبدالخنان صیب هم د خدائي خدمتګارئ نه پس لیک شروع کړو او په نظم کښې ئې د خپل قام د آزادئ له پاره نغمه خوان وو ۔ د کلام نمونه ئې څه دا ډول ده ۔

ځوانانو ستاسو سر خو دے په ملک قربان یو ځلے

د خپل وطن نه به اوباسئ انګریزان یو ځلے

یا به ته تول هغه منې فخر افغان چې وائي

یا به در ووښایو مونګ لار د انګلستان یو ځلے

مونګ مظلومان یو د مظلومو سره ضد وونکړې

ګمې نو ووبه کړے ارمان ارمان ارمان یو ځلے

عبدالخنانه د فاطمې  سوال د الله نه کوه

چي راولي د آزادئ په مونګ دوران یو ځلے

## مولانا عنایت الله طورو

مولانا صیب د طورو یو عالم فاضل، خدائی خدمتگار، د ازادئ مجاهد وو ۔ خپل نوم یې مولانا سید محمد عنایت الله (1910-1995) د استادالعلماء علامه حافظ سید محمد عبدالجمیل (1864-1946) ځوې وو ۔ د نامتو ماهر تعلیم او لیکوال اسرار د طورو (1939) او د مشهور ادیب م ر شفق (1946) والد محترم وو

مولانا صیب په اسلامي علومو ډیر ژور نظر لرلو ۔ پښتون رساله کښې به یې باقاعدګۍ سره لیک کولو ۔ د لیک ځني موضوعات ئې دا دي

د مسلمانانو ځلمو د پاره د نصاب تعلیم معیار ۔ اګست ۱۹۳۱

صدقه الفطر ۔ نومبر ۱۹۴۷

په علم سره غریب سړي لوې رتبې ته رسیدي شي ۔ فروري ۱۹۳۹

د جمیعت علمائے هند کارنامې ۔ ( ځلور ټوکه ) جنوري تا اپریل ۱۹۴۷

د غور او فکر خبرې ۔ اپریل ۱۹۴۷

د دغه موضوعاتو ته معلومیږي چې مولانا عنایت الله طوروي صیب سره د قام د آزادئ څومره فکر وو بله دا چې کۀ چرې قام آزاد شو نو دوي له کوم قسم تعلیمع نصاب پکار دے په دې هم مولانا صیب قام ته رهنمائي ورکړے ده ۔ دغه رنګ د جمیعت علمائے هند د کارنامو زکر په اولني ځل مولانا صیب د قلم د کرښو نه تیر کړے دے ۔

مولانا محمود صیب

مولانا محمود صیب د دوسهرو چارسدې سره تعلق لرلو ۔ کله چې خدایئ خدمت ګارئ کښې شامل شو نو ملي شاعري یې هم شروع کړه ۔ د کلام یوه غوره نمونه یې دا دۀ ۔

والله چې وردنکړمه د چا په سردارئ خدایئ خدمت ګارئ
داو کړې مې دربانديي ده دا خپله کپرئ خدایئ خدمت ګارئ
زما او ستا یاري به وي تر مرګه پورے غیرت به مې وکورے
په دار به شم توبه به نه کړم زه ستا له یارئ خدایئ خدمت ګارئ

قبول مي سر د دار دے ستا په مينه محبت ته يئ زما راحت

قربان به درنه کړمه سلطنتونه اميرئ خدايئ خدمت گارئ

د لوي نوابۍ لوي خانۍ لوئ سلطنت نه د عيشونو او عشرت نه

دي خوښي مي شپې ورځې ترې دا ستا د فقيرئ خدايئ خدمت گارئ

شه جان و تن مي زار درنه قربان دے شم له ميني درکوم به د زړه ويني

نيستي دے ده مستي نه يم خبر له نيستکارئ خدايئ خدمت گارئ

چې ستا په يارانه کښي تهمتي نه ووم زه څه ووم رنځور وومه څه نه ووم

ملګرے مي چي ته شوے رانه لر شوې بيمارئ خدايئ خدمت گارئ

که ستا په سر وروري دوستي کري پاتي پرے نه کوم ننواتي

وهلے ما محمود درسره ننګ د ننګ دارئ خدايئ خدمت گارئ

(پښتون مارچ )۱۹۴۶

مولانا عبدالوهاب صيب

مولانا عبدالوهاب صيب به د صحيح سوشلزم د عنوان لاندې د آزادئ حاصلولو نه پس د اقتصاد چلولو حل ښودلو ـ دې مضمون نه به ډيرو مسلم ليګيانو هم استفاده کوله ـ او ډير په شوق به يئ دا مضمون لوستلو ـ ( پښتون مارچ ۱۹۳۱)

مولانا سيد محمد ادريس طوروي صيب

مولانا سيد محمد ادريس طوروي صيب چې د مردان د طورو کلي سره تعلق لرلو ـ د مولانا صيب يو سلسله وار مضمون به د پښتون صفحو کښي د 'د آزادي هند فوځ يوه زړه مقدمه ' په عنوان راتلو ـ چې دغي کښي به د آزادئ د هغه پتنګانو د مقدمو حال احوال وو چا باندې به چې قيدونه او نورې سزاګاني ختلي وې ـ

مولانا عبدالحکیم صیب به د اسلام په بنیادي احکاماتو باقاعدګۍ سره مضامین لیکل ـ د هغوي سلسه وار مضمون " د فرضو پابندي " به زنانو ډیره خوښوله او د داد او ستائیني خطونه به یې د مدئیر په نوم رالیګل ـ

(پښتون مجله فروري ۱۹۳۱)

د مازو ډهیری مولانا عبدالرحمان به اول اول نثر لیکلو خو بیا یې نظم لیکل هم شروع کړل ـ د کلام یوه غوره نمونه ئے دا دهٔ ـ ( پښتون مجله مارچ ۱۹۳۱)

نه به ژوندي یم نه به خپل وطن ازاد اووینم

نه به زه خپل جهاز سوار په شاد و باد اووینم

----

د دوسهرو چارسدې مولانا غلام حیدر حیات صیب به هم ډیره خوندوره قامي او ملي شاعري کووله ـ د دوي موضوعات به هم اکثر د وخت او حالاتو سره سم تازه مسائلو باندې وو ـ د خود غرض لیډر په نوم د دوي یو نظم د پښتون اګست میاشت ۱۹۳۱ ګنه کښې چهاپ دے ـ

نه شو رښتیا عبث د خوب دې تعبیرونه زما

د خیال په پلک به نه شي مات سخت زنځیرونه زما

## د دین باره کښې د باچا خان سوچ او عمل

باچاخان په خپل ذات کښې پوخ مذهبي انسان وو ـ خو د بهر نه پوره مذهب آزاد وو یعني یو سیکولر انسان وو ـ په دے پوخ باوري وو چې لا اکراه في الدین یعني دین کښې هیڅ قسم زور زیاتے نشته ـ دا وجه هم وه چې قرآن شریف یې په معنو او تفسیر ځو کرته ووئیلې وو ـ او دا زکر به یې کولو چې

و ما انزل من قبلک ----

د قران شریف مطالعه به یې روزانه کووله خو دا به یې چا ته ښودلو یا نمود د پاره نه کوله بلکه لکه چې خپله ’زما ژوند او جدوجهد ‘ کښې وایئ ----"چې بل جیل ته تلم نو یو قرآن مې غاړې ته واچولو "

چونکه باچاخان د ژوند هره دریمه ورځ جیل کښې تیره کړے ده نو د جیل دا معمول وو چې سحر به يې د مانځه نه پس درس انتظام کولو ـ جيل کښې به ورسره څلور تفسیرونه پراته وو ـ چې یو تفسیر به ختم شو نو بل به يې شروع کړو ـ په قرآن باندي د باچاخان د مینې دا حال وو چې کله يې واده وو نو خپلې بي بي ته يې واده کښې قرآن شریف تحفه کښې ورکړو ـ چې دویمه واده يې وو نو هم يې خپلې بي بي ته قرآن شریف تحفه کړو ـ بله مهمه خبره دا ده چې هغه قرآن شریف يې بي بي ته تحفه کړل چې د پښتو ترجمه هم پکښې وه ـ

باچاخان کفایت شعاري دومره مشهوره ده چې ځانله کتابونه پرے لیکل کیګي ـ

د عدم تشدد فلسفې باره کښې به يې ووئیل چې دا ما د پیغمبر علیه السلام د مکې ژوند نه اخستې ده ـ د پښتنو ژوند د تشدد له وجې د انتشار سره مخ دے ـ دې وجې نه دوي له پکار دي چې د محمد ص د مکې د ژوند نه استفاده ووکړي ـ باچاخان به هره شپه د تحجد مونځ شل رکعته ضرور ادا کول ـ خو چا ته به هم دا معلومه نه وه ځکه چې باچاخان چاته تکلیف ورکول نه غوښتل ـ

باچاخان دوه ځله حج ادا کړي وو ـ اولنې ځل يې کال ۱۹۲۶ کښې او دویم ځل کال ۱۹۴۲ کښې ـ د کال ۱۹۲۶ حج ادا کولو وکت ورسره خپله بي بي مهر قند بي بي هم وۀ ـ دے نه علاوه ورسره خپله خور قریشه بي بي ، اووښې برهان خان هم وو ـ باچاخان خپلې بي بي سره حج نه وروستو بیت المقدس ته لاړو ـ هلته مهر قند بي بي پوړو نه راوغرځیده اتلس ورځې هسپتال کښې وه ـ بیا په حق وورسیده ـ او هم هلته يې دفن کړه ـ

## د تحقیق نتائج :

د خدائي خدمت ګار تحریک اثرات د پښتون نفسیاتو تولو اړخونو باندې شوي وو۔ په دې کښې یو اړخ د مذهب او مذهبي عالمانو هم وو ـ کومو عالمانو چې به دا ګڼل چې د دوي کار صرف جومات پورې محدود دے دغه تصور ته خدائي خدمت ګار تحریک نوې سوچ دا ورکړو چې څه رنګ شمونګ د ژوند نو اړخونه د فیرنګي قید کښې دي دا رنګ زمونږ مذهب هم قید دے ـ د علماؤ ذهن د آزادۍ دا خبرې پریوتې او کومو جیلونو کښې به چې د فیرنګي د یرې چا د اسلام نوم نه شو اخستې هغه جیلونو کښې بانګونه شروع شول او جمعې سره مونځ پکښې شروع شو ـ دغه رنګ علماؤ د آزادۍ تحریک کښې عملي برخه اخستل شروع کړل ـ هم يې خپل قلم ووکاروۀ او هم عمل ـ دا رنګ عالمانو کښې د آزادۍ نوموړي شاعران ادیبان پیدا شو ـ

حوالې


۱ـ عبدالولي خان ، ۱۹۹۶، "با چاخان او خدائي خدمت ګارې ، جلد اول " یونیورسټي بک ایجنسي پيښور

۲ـ باچا خان، ۱۹۷۹ ، "زما ژوند او جدوجهد " د اطلاعاتو فرهنګ کابل، افغانستان

۳ـ پښتون مجله ، جنوري ۱۹۳۱

۴ـ پښتون مجله ، فروري ۱۹۳۱

۵ـ پښتون مجله ، مئي ۱۹۳۱

۶ـ پښتون مجله ، جون ۱۹۳۱

۷ـ پښتون مجله ، اګست ۱۹۳۱

۸ـ پښتون مجله ، نومبر ۱۹۳۱

۹ـ پښتون مجله ، دسمبر ۱۹۳۱

۱۰ـ پښتون مجله ، جنوري ۱۹۳۹

۱۱ـ پښتون مجله ، فروري ۱۹۴۶

۱۲ـ احمد کاکا، ۱۹۹۱، " خدائي خدمت ګار تحریک اول ټوک " یونیورسټي بک ایجنسي پيښور

۱۳ـ عبدالاکبر خان اکبر ، ۲۰۰۸ ، " د برصغیر پاک و هند په آزادئ کښې د پښتنو برخه او زما د ژوند سره تړلي حالات، یونیورسټي پبلشرز، پيښور

۱۴ـ سهیل خان، ډاکټر ، ۲۰۲۲، " تاریخ چارسده " مفکوره ، پيښور

۱۵ـ سهیل خان، ډاکټر، ۲۰۱۷، " جنګ آزادي کا ایک ګمنام هیرو ، حکیم محمد اسلم سنجري ، باچاخان چئير ، عبدالولي خان یونیورسټي مردان

-------